## کولمې


کولمې د هضمي سیستم یوه برخه ده. هضمي سیستم خواړه میده کوي او جذبوي ترڅو بدن وکولای شي استفاده ځنې وکړي.

کولمې 2 برخې لري:

- کوچنۍ کولمه
- لوی/غټه کولمه.

لویې کولمې درې برخې لري. چې په لاندې ډول دي:

- اپنډېکس
- د ښې طرف کولمه
- مقعد.




## د کولمو سرطان

د بدن ټولې برخې له وړوکو حجرو څخه جوړې شوې دي. د کولمې سرطان هغه وخت پیښیږي کله چې د کولمې حجرې بې کابو وده وکړي او د تومور په نوم یوه غده رامنځته کړي.

په کوم ځای کې چې کله په لومړي ځل سرطان وده پیل کوي، هغه ابتدایي سرطان بلل کیږي. ابتدایي سرطان د بدن هغه برخې ته ویل کیږي، له کوم ځای څخه چې دا پیل شوی وي، د مثال په توګه، د کولمو سرطان.

د کولمو سرطان هغه سرطان دی چې کولون (لوی/غټه کولمه) یا رېکتوم (د ستری کولمی لاندی برخه) باندې اغیزه کوي. د کولمو سرطان ته د کلورېکټل سرطان هم ویل کیږي.

ځیني وختونه، د کولمو سرطان حجرې د وینې او لنفاوي سیستم/نظام له لارې د بدن نورو برخو ته خپریږي. دې ته ثانوي سرطان ویل کیږي.

د کولمو سرطان ساري نه دی او نورو خلکو ته لیږدول کیدی نشي.

سرطان په کوچنۍ کولمه یا مقعد باندې هم اغیزه کولی شي. د دې سرطانونو د کولمو سرطان څخه په مختلف/بېل ډول درملنه کیږي. مونږ د سرطان د دې ډولونو په اړه په انګلیسي ژبه کې معلومات لرو.

لنفاوي سیستم
د لنفاوي سیستم/نظام زمونږ سره د انتانو او ناروغیو څخه مخنیوي کې مرسته کوي. دا د عروق لنفاوي په نامه له نازکو پیپونو څخه تشکیل شوی دی. دغه عروق په ټول بدن کې د کوچنیو لنفاوي غدو ډلو سره وصل دی.

د کولون (لوی/غټې کولمې) او ریکتوم (د ستری کولمی لاندی برخه) ته نږدې لنفاوي غدې شتون لري. د کولمو سرطان د کولمو سره نږدې لنفاوي غدو ته خپریدی شي.

**د کولمو سرطان مرحلې او درجې**
د سرطان مرحله پدې معنی ده چې دا څومره لوی دی او دا چې سرطان خپور شوی دی که نه.

د سرطان درجه دا ده چې سرطان څومره ژر وده کولی شي.

## درملنه څه ډول پلان کیږي

ستاسو د روغتیا پاملرنې ټیم به ستاسو لپاره د غوره درملنې پلان کولو لپاره ملاقات وکړي. ستاسو ډاکټر یا نرس به بیا له تاسو سره په دې اړه خبرې وکړي:

- د سرطان مرحله او درجه
- ستاسو عمومي روغتیا
- درملنې او احتمالي اړخیزې اغیزې
- تاسو د شته درملنو په اړه څه فکر کوئ.

## د خپل روغتیا پالنې ټیم سره خبرې کول

دا مهمه ده چې د خپل ډاکټر سره د هرې درملنې په اړه خبرې وکړئ.

ستاسو روغتون کولای شي تاسو ته یو ژباړن برابر/ترتیب کړي. که چیرې یوې ته اړتیا ولرئ نو نرس مو خبر کړئ. تاسو کیدای شي دا هم وغواړئ چې له خپل ځان سره داسې څوک بوځئ چې ستاسو په ژبه او انګلیسي کې خبرې کولی شي.

ستاسو سره د خبرو کولو وروسته، ستاسو ډاکټر به معمولاً له تاسو څخه وغواړي چې یوه فورمه لاسلیک کړئ ترڅو وښیي چې تاسو د درملنې معنی په اړه پوهیږئ او د دې ترلاسه کولو سره موافق یاست. دې ته د خپل رضایت څرګندول وایي. تاسو ته به ترهغه علاج نه درکول کیږي، ترڅو چې تاسو د دې سره موافقه نه وي کړي.

**ستاسو د درملنې په اړه د پوښتنې کولو لپاره پوښتنې** دلته ځینې پوښتنې دي چې تاسو یې کیدای شي غواړئ د خپل سرطان ټیم څخه ستاسو د درملنې په اړه وپوښتئ:

- زما تشخیص څه څرګندوي؟
- د سرطان مرحله او درجه څه ده؟
- زما درملنه به څه ډول وي؟
- د هرې درملنې ګټې، خطرونه او جانبي عوارض څه دي؟
- درملنه زما په ورځني ژوند باندې څنګه اغیزه کوي؟
- زه له چا سره خبرې کولی شم چې زه څنګه احساس کوم؟

## د کولمو د سرطان درملنه

د کولمو د سرطان په درملنې کې لاندې شیان شامل دي:

- عملیات (جراحي)
- درمل (کیمو معالجه، هدف شوي معالجه یا امونو معالجه)
- رادیوتراپي

ډیری خلک له یو څخه ډیر د درملنې ډول لري، لکه عملیات او بیا کیموتراپي یا راډیوتراپي.

**جراحي**
د سرطان د لرې کولو لپاره عملیات د کولمو د سرطان لپاره ترټولو عامه درملنه ده.

ځیني وختونه د کولمو د سرطانونو ډېره کوچنې ابتدایي مرحله کېدی شي د محلي پرې کولو په نامه د عملیاتو له لارې ایسته شي. دا هغه ځای دی چیرته چې هغوی د مقعد له لارې د جراحي توکو په تېرولو سره سرطان له منځه وړي. جراح اړتیا نه لري چې په ګېډې (نس) کې څه پرې کړي.

ځیني کسان د کولمو د یوې برې د پرې کولو لپاره جراحي عملیات ته اړتیا لري. جراح به معمولاً لمفاوي غدې چې سرطان ته نږدې دي له منځه یوسي. دا ځکه چې د سرطان حجرې کولی شي لنفاوې سرطان ته نږدې لمفاوي غدو ته خپور شي.

تاسو ښایي خپل عملیات په لاندې توګه ولرئ:


- **آزاده عملیات** – دا هغه وخت دی چې جراح مخکې له دې چې سرطان له منځه یوسي، 1 لوی ټوټه پرې کوي.
- **د کلیدي سوري (لپروسکوپیک) عملیات** – دا په دې مانا دي چې جراح 4 یا 5 کوچنی برخې پرې کوي. هغوی د سرطان د له منځه وړلو لپاره د دغو غوځ شویو ځایونو له لارې جراحي وسایل/اوزار ور اچوي. تاسو معمولاً د کلیدي سوري په عملیات سره له آزاد یا لوی عملیات څخه ژر رغیږئ.

د ستوما نرس به تاسو ته وښيي چې څنګه ستوما ته پاملرنه وکړئ او تاسو ته به ډېر معلومات او مشوره درکړي. د سټوما نرس هغه نرس دی چې د سټوما پاملرنې کې تخصص لري. له بل چا سره د ستوما په هکله خبرې کول ځوک چې ستوما لري ښايي ستاسو لپاره کومکي وي. ستاسو نرس ښايي وکولای شي دا کار ستاسو لپاره تنظيم کړي. ستاسو نرس به تاسو ته وښيي چې څنګه په خپل کور کې ستوما تنظيم کړئ. تاسو ښايي له عمليات وروسته يوازې د لنډې مودې لپاره ستوما ته اړتيا ولرئ، ترڅو کولمو ته د رغېدو اجازه ورکړئ. مګر ځينې وختونه به دا دايمي وي. که چېرې ستوما ته اړتيا وي، ستاسو ډاکټر به تاسو ته ووايي او همدارنګه څرګنده به کړي چې د څومره مودې لپاره ستوما ته اړتيا لرئ.


**د ريکټل/د کولمې لاندې برخې سرطان لپاره د عملياتو ډولونه**
که چيرې تاسو د ريکټل/د کولمې لاندې برخې ډېر کوچنی سرطان لرئ، تاسو ممکن يو عمليات ترسره کړئ چې د ځايي پرېکونې په نوم يادېږي. سرطان معمولا د مقعد (د کونې سوري) له لارې لرې کيدی شي. دا پدې مانا لري چې جراح بايد ستاسو په ګيډه کې پريکونه/غوڅونه ونه کړي.

تاسو کيدی شي د مقعد (د کونې سوري) په شاوخوا کې د سرطان او ځينې وازګين نسجونو او ليمفاين غدې لرې کولو لپاره تر ټولو لوی عملياتو ته اړتيا ولرئ. د عمليات 2 ډولونه دي:

- **ړومبنی غوڅونه** – جراح د مقعد هغه برخه پرې کوي چې د سرطان له امله اغېزمنه شوې وي. هغوی د کولمو 2 وروسته برخې سره نښلوي.
- **د ګېډې عجاني غوڅونه** – دا معمولاً مقعد ته د نږدې سرطان لپاره کارول کېږي. ډاکټر کولمه او مقعد لرې کوي. له دې عمليات وروسته به تاسو دايمي ستوما ولرئ.




**ړومبنی غوڅونه**




**د ګیډې عجاني غوڅونه**

**د جراحۍ نور ډولونه**
ځیني وختونه، سرطان کولمې بندوي او د ادرار د خارجېدو لاره بندوي. دا کېدی شي د ګېډې د درد او کانګي/قي سبب وګرځي. ډاکټر ښايي د کولمو د خلاص پرېښودو لپاره په کولمه کې د سټېنټ په نوم وړوکی ټیوب داخل کړي. ځیني خلک د عملیاتو په جریان کې اړ کېږي چې د کولمې بنده شوې برخه يې لرې شي.

که سرطان د بدن بلې برخې ته سرايت وکړي، لکه ځيګر يا سږو ته، ځيني وختونه تاسو کولای دغه سرطان د عملیات له لارې لرې کړئ.

موږ ستاسو په ژبه کې د عملیاتو او ځیني جانبي عوارضو په اړه نور معلومات لرو چې تاسو يې زموږ په ویب پاڼه کې لرئ، macmillan.org.uk/translations څخه لیدنه وکړئ

**کیموتراپي**
کیموتراپي د سرطان د حجرو د ویجاړولو لپاره د سرطان ضد درمل کاروي. تاسو د کولمو د ابتدايي سرطان د درملنې لپاره معمولاً کیموتراپۍ ته اړتیا نه لرئ. کیموتراپي په لاندې حالاتو کې ورکول کېږي:

- له عملیات وروسته چې د سرطان د بېرته راګرځېدو خطر کم کړي.
- له عملیات مخکې، چې سرطان کوچنی کړي او د بېرته راګرځېدو خطر يې کم کړي
- د هغه سرطان د اصلي درملنې لپاره چې سرايت يې کړی دی.

کیموتراپي درمل کېدی شي داسې جانبي عوارض رامنځته کړي چې تاسو ته د ناروغۍ احساس درکړي. مختلف درمل د مختلفو جانبي عوارضو لامل کېدی شي. دا شيان په لاندې ډول دي:

- د مرض د سرايت احتمال ډېر دی
- د ستړیا احساس کول
- د ناروغۍ احساس کول یا ناروغیدل
- اسهال - د معمول په پرتله ډېر لوی بول/پو تیریدل، یا نرم اوبه ډوله لوی بول/پو
- د خولې درد
- د ویښتانو غورځیدل.

ستاسو ډاکټر کولی شي له تاسو سره د هغه جانبي عوارضو په اړه خبرې وکړي چې تاسو يې لرئ او دا چې څنګه يې کنټرول/اداره کړئ. ډېری جانبي عوارض د درملو سره کنټرول کېدی شي. هرکله چې کيموتراپي پای ته ورسيږي ډېری جانبي عوارض له منځه ځي.

موږ ستاسو په ژبه کې د کيموتراپي په اړه نور معلومات په خپله ويب پاڼه کې لرو، macmillan.org.uk/translations څخه ليدنه وکړئ

**راډيوتراپي**
راډيوتراپي د سرطاني حجرو د له منځه وړلو لپاره د لوړې درجې برق درلودونکي ايکسرې کاروي. تاسو معمولاً د کولمو د سرطان لپاره راډيوتراپۍ ته اړتيا نلرئ. دا د ريکټل/د کولمي لاندې برخې سرطان لپاره يوه عامه درملنه ده.

تاسو د مقعدي سرطان د لرې کولو لپاره ښايي له عملياتو مخکې راډيوتراپۍ ته اړتيا ولرئ. دا کولی شي سرطان کوچنی او اسانه کړي ترڅو د ريکټل/د کولمي لاندې برخې د سرطان د بيرته راګرځيدو خطر لرې او کم کړي.

د راډيوتراپۍ څخه وروسته، تاسو معمولا لږ تر لږه 6 اونۍ مخکې له جراحي کولو څخه انتظار کوئ. که داسې ليدل کيږي چې د سرطان يوه برخه پاتې کيږي، راډيوتراپي کېدی شي له عملياتو وروسته ترسره شي.

که چېرې مقعدي سرطان سرايت کړی وي يا بيرته راوګرځي، تاسو ښايي راډيوتراپي ترسره کړئ ترڅو سرطان کوچنی شي. دا همدارنګه کولای شي د درد په څېر له نښو نښانو سره مرسته وکړي.

د مقعدي سرطان لپاره د راډيوتراپۍ جانبي عوارض په لاندې ډول دي:

- ستړيا
- ستاسو په پوستکي کې بدلون
- په بولو کې بدلون
- په مثانه کې بدلونونه.

موږ ستاسو په ژبه کې د راډيوتراپي او ځينې جانبي عوارضو په اړه نور معلومات لرو چې تاسو يې زموږ په ويب پاڼه کې لرئ، macmillan.org.uk/translations څخه ليدنه وکړئ

**کيموريډيشن**
که چېرې تاسو ريکټل/مقعدي سرطان لرئ، تاسو کېدی شي کيموريډيشن ولرئ. دا هغه وخت دی کله چې تاسو په يو وخت کې کيموتراپي او راډيوتراپي لرئ. دا کېدی شي له کيموتراپۍ يا راډيوتراپۍ له يوازې ترسره کېدو څخه ډېر ګټور کار وکړي. په دواړو سره يو ځای درملنه کول کېدای شي جانبي عوارض شديد کړي.

**هدفي درملنه**
د هدفي درملنې درمل د سرطاني حجرې کې يا په شاوخوا کې د هغه څه ضد لپاره کارول کيږي چې د سرطاني حجرو په ودې او پاتې کيدو کې مرسته کوي. هدفي درملنې ځينې وختونه د کولمو د هغو سرطانونو د درملنې لپاره کارول کيږي چې د بدن نورو برخو ته يې سرايت کړی وي.

تاسو ممکن د کيموتراپي سره د هدفي درملنې درمل ولرئ. جانبي عوارض ښايي توپير لرونکي وي. په دوی کې کېدی شي شامل وي:

- د پوستکي وچوالی يا دانې
- اسهال
- د ناروغۍ احساس لرل
- د زکام نښې نښانې.

ډېری جانبي عوارض کېدی شي په درملو سره کنټرول شي او د درملنې له بشپړېدو سره ختم شي.

**مدافعتي درملنه**
د مدافعتي درملنې درمل د معافيت له سيستم څخه استفاده کوي څو د سرطان حجرې ومومي او له منځه يې يوسي. دوی کيدی شي د کولمو سرطان درملنې لپاره وکارول شي چې د بدن نورو برخو ته يې سرايت کړی وي.

د معافيت درملنې جانبي عوارضو کې شامل دي:
- اسهال
- په پوستکي کې بدلونونه
- د بندونو دردونه
- د ستړيا احساس کول.

## ستاسو د درملنې احتمالي جانبي عوارض

**په بول کې بدلونونه**
له درملنې وروسته، ستاسو کولمې ښايي د يو څه مودې لپاره په مختلف ډول کار وکړي. تاسو ښايي:
- اسهال ولرئ
- اکثر د زيات بول کولو اړتيا ولرئ
- د بولو د کولو لپاره د عصبي حجرو لخوا کمه خبرتيا ولرئ
- په ګېډه کې درد ولرئ.

دا معمولاً د وخت په تيريدو سره ښه کيږي. که چيرې تاسو دغه نښې نښانې لرئ يا مو نښې نښانې بهبود نه مومي، خپل ډاکټر يا نرس ته وواياست. هغوی کولای شي د مرستې لپاره مشورې يا درمل درکړي.

**د خپل پوستکي ساتنه وکړئ**
د اوبو لرونکو بولو سره ممکن ستاسو د ګېډو شاوخوا ستاسو پوست تخريش کړي. دا لاندېنۍ ښايي مرسته وکړي:
- خپل د ښکته/لاندې شاوخوا پوستکی پاک او وچ وساتئ.
- لانده دسمالونو وکاروئ ځکه چې پوستکي لپاره د کاغذ تشناب په پرتله ډېر مرطوب دي.
- د خپل پوستکي ساتلو کې د مرستې لپاره پيډونه او د خنډ مسح کوونکي/پاکوونکي يا سپرې وکاروئ. يو متخصص نرس تاسو ته د پيډونو او کريمونو کارولو په اړه مشوره درکولی شي.
- د خپل پوستکي د وچ او پاک ساتلو لپاره کتاني نېکر واغوندئ.

**د رژيم/غذا بدلونونه**
ستاسو د روغتيا پاملرنې ټيم کيدی شي تاسو ته مشوره درکړي چې يو ځانګړي رژيم/غذا تعقيب کړئ پداسې حال کې چې ستاسو کولمه له جراحي څخه روغيږي.

د جراحی څخه وروسته د لومړيو څو ورځو لپاره، تاسو ته مشوره درکړل کيدی شي چې د ټيټ/لږ فايبر لرونکي خواړه وخورئ. په ټيټ/لږ فايبر لرونکي خواړو کې سپينه ډوډی، سپينه پاستا يا ساده کريکرونه، بې پوستکي ميوه او سبزيجات شامل دي.

په منظم وختونو کې خوراک کول به ستاسو د کولمې سره په منظم ډول کار کولو کې مرسته وکړي. تاسو کيدی شي په ورځ کې د 1 يا 2 لوی ډوډو پرځای د څو کوچني خواړو خواړل اسانه ومومئ.

که تاسو لا هم په خوارک کولو کې ستونزه لرئ، له خپل نرس يا ډاکټر سره خبرې وکړئ.

**اضطراب**
د تشويش يا د انديښنه احساس کول کولای شي ستاسو غايطه مواد نري کړي. د آرام کولو ځرنګوالی په اړه زده کول کيدی شي ستاسو د کولمو په روغيدو کې مرسته وکړي. دا ستاسو د عمومي روغتيا لپاره هم ښه دي.

**د Macmillan تشناب کارت**

که تاسو په عاجله توګه تشناب ته اړتیا ولرئ، بهر تګ کول ښايي ستاسو لپاره د اندېښنې وړ وي. د Macmillan د تشناب وړیا کارت له ځان سره لرل ښايي له تاسو سره مرسته وکړي. تاسو کولای شئ د غه کارت د پلورنځیو، دفترونو او کافي خانو په څېر ځایونو کې وښیئ. موږ هیله لرو دغه کارت به له تاسو سره تشناب ته په لاسرسي کې مرسته وکړي، مګر دا کارت ممکن هر ځای کار ورنکړي.

کارت یوازې په انګلیسي کې شتون لري او لوستل کیږي 'زما د سرطان درملنې له امله زه تشناب ته عاجل لاسرسي ته اړتیا لرم. مهرباني وکړئ ایا تاسو مرسته کولی شئ؟'

تاسو کولای شئ دغه کارت د Macmillan د ملاتړ تلیفوني لیکې **0808 808 00 00** ته په زنګ وهلو سره ترلاسه کړئ.
یا تاسو په orders.macmillan.org.uk کې یو آرډر کولی شئ

تاسو همدارنګه کولای شئ د معلولیت لرونکو کسانو له تشناب څخه استفاده وکړئ. هغوی د مینځلو ځای او جامو د بدلولو لپاره ځانګړی ځای لري. د معلولیت لرونکو کسانو تشنابونه ځینې وختونه بند وي. تاسو د Disability Rights UK (د انګلستان د معلولیت حقونو) څخه کلید اخیستلی شئ.

**د جانبي عوارضو په اړه لازیات معلومات**

موږ د سټریا او خواړو ستونزو په اړه نور معلومات لرو چې کیدی شي تاسو یې مرسته کوونکي ومومئ. تاسو کولای شئ دغه معلومات په آنلاین بڼه له macmillan.org.uk/translations څخه ترلاسه کړئ.

## تعقیب

وروسته له دې چې ستاسو درملنه پای ته ورسیږي، تاسو به په منظم ډول معاینات او آزموینې ترسره کوئ. دا معمولاً تر 5 کلونو لپاره دوام کوي.

که چیرې تاسو د چیک اپونو/معایناتو په مینځ کې کومې نوې نښې نښانې ولیدلې، ژر تر ژره خپل عمومي معالج، د سرطان ډاکټر یا نرس ته وواياست.

## ستاسو احساسات

تاسو به ممکن د خپګان احساس وکړئ کله چې تاسو ته وویل شي چې سرطان لرئ. تاسو به ممکن ډیری بیلابیل احساسات ولرئ. د احساس کولو لپاره هیڅ کومه سمه یا غلطه لاره نشته. له دې سره د مبارزې لپاره ډیری لارې شتون لري. د نږدې ملګري یا خپلوان سره خبرې کول ممکن مرسته وکړي. ستاسو ډاکټر یا نرس هم مرسته کولی شي.

# د خپل ځان لپاره مناسب پاملرنه او ملاتړ ترلاسه کول

که تاسې سرطان لرئ او په انګلیسي ژبه کې خبرې نه کوئ، تاسو ښايي اندېښنه ولرئ چې دا به ستاسو د سرطان په درملنه او پاملرنه باندې اغېز وکړي. مګر ستاسې د روغتیا پالنې ټیم باید تاسو ته داسې پاملرنه، ملاتړ او معلومات وړاندې کړي چې ستاسو اړتیاوې پوره کړي.

موږ پوهیږو چې ځینې وختونه خلک ښايي د سم ملاتړ په ترلاسه کولو کې له اضافي ننګونو سره مخ شي. د بېلګې په توګه، که تاسو کار کوئ یا کورنۍ لرئ نو دا به سخته وي چې د روغتون ملاقاتونو ته د تګ لپاره وخت ولرئ. تاسو همدارنګه ښايي د پیسو او د ترانسپورټي لګښتونو په اړه اندېښنې ولرئ. دغه ټول شیان سټریس رامنځ ته کوي او مبارزه ورسره سخته ده.

موږ همدارنګه په سرطان باندې د اخته کسانو لپاره د Macmillan مرستې وړاندیز کوو. دغه یو ځلي تادیات دي چې د روغتون د پارکینګ، سفري لګښتونو، د ماشوم د مراقبت یا د ګرمولو د بیلونو په شان شیانو لپاره استفاده ورڅخه کیږي.

